Afghanistan Watch
دیده‌بان افغانستان

international center for TRANSITIONAL JUSTICE

موضوع: کلمبیا



# په کلمبیا کې شخړې ته ځغلنده کتنه

کلمبیا یو داسې هیواد دی چې په لویدیځه نیمکره کې یې ترټولو اوږدې وسله والې شخړې تجربه کړې دی. د چریکانو، حکومت او نیمه نظامي ځواکونو ترمنځ د جګړو پرله پسې څپو د ډېرو خلکو د ژوند له لاسه ورکولو سبب ګرځېدلی دی او د قانون واکمني یې کمزورې کړې ده. دا هیواد له ډېرو ستونزو سره لاس او ګریوان دی . دا ستونزې د نیشه یې توکو د قاچاق او سیاسي جرمونو ترمنځ د بدلون په حال کې پولو څخه پیل او له ترهګرۍ سره په مبارزه باندې د حکومتي چارواکو تر ټینګار پورې دوام مومي ، دې ستونزو، د خلکو لپاره چې په تیرو کې د بشر د حقونو تر پښو لاندې کولو په وړاندې او همدارنګه بشري حقونو ته د درناوي په اړه د مسئولیت منښې غوښتونکي دي ډېر کړاوونه رامنځ ته کړي دي.

## یوه اوږد مهالې شخړه

کلمبیا د هغو هیوادونو له ډلې څخه ده چې وسله والې شخړې یې لیدلې دي. له څلویښتو کلونو اوړي چې دا هیواد له سختو وسله والو شخړو سره لاس او ګریوان دی. هغه شخړې چې د کورنۍ جګړې او پلان شویو جرمونو په پایله کې منځ ته راغلې دي خو په خواشینۍ سره چې دا شخړې په پرله پسې توګه د ډېرېدو په حال کې دي. البته دا شخړې د نیشه یي توکو د بازار په چاپیریال کې رامنځ ته شوې دي. له دې وسله والو شخړو څخه په ځای پاتې اغیزې له وژنو، کډوالۍ ته په زور اړیستنې، ځورونې، جنسي تیري، د افرادو تری تام کېدل، سړې تښتونې دي چې په ټولنیزو کړنلارو باندې اوښتې دي. په دې هیواد کې د بشري ضد جنایتونو پراخې کچې ته په پام سره بیاهم کلمبیا په لاتینه امریکاکې د ترټولو پیاوړي او نسبتا ټینګ قضایي سیستم او د پیچلي قانوني او قضایي چارچوکاټ درلودنکی دی . البته سیاسي او ټولنیزو پوهانو په شخړه او تناقضاتو کې لږ رول درلود.

په کلمبیا کې ډېرو ډلو په فعالیت لاس پورې کړی دی. د بېلګې په توګه ؛ چریکان؛ داسې یوه ډله ده چې د ۱۹۶۰ لسیزې په اوږدو کې یې له بزګرانو او کمونیستو پاڅون کوونکو څخه سرونه راپورته کړل. نورې ډلې د کلمبیا وسله وال او انقلابي ځواکونه او آزادي غوښتونکي ملي ځواکونه دي . ښي اړخو نیمه نظامي ډلو له رسمي چارواکو سره لاس یو کړ او د دې پاڅون کوونکو ډلو په وړاندې یې مبارزه پیل کړه. د ۱۹۹۰ لسیزې په وروستیو کې نوموړو نیمه نظامیانو په نظامي او سیاسي ډګرونو کې د خپلواکۍ ادعا وکړه او د کلمبیا د دفاعي متحدو ډولو په نوم یې دیوه ښي اړخي ائتلافي سازمان جوړولو خبر ورکړ.

نوموړې ډلې د نیشه یې توکو په اقتصاد باندې ولاړې دي. یانې نیشه یي توکي د دوی اقتصادي سرچینه جوړوي او د نیشه یي توکو له لارې خپل لګښتونه او مصارف برابروي. دا ډلې په یو ډول له نیشه یي توکو سره نیغ په نیغه اړیکه لري. دا اړیکه د کاري ارتباط او کارګمارنې په بڼه ده یانې د قاچق وړونکو د امنیتي خدمتونو مسئولیت په غاړه لري او یا نیغ په نیغه په قاچاق کې لاس لري . د دې ډلو د قدرت د کمزوري کولو لپاره حکومت له ۱۹۹۸ کال څخه را په دېخوا د وسله والو ځواکونو د بودجې کچه زیاته کړې ده او ادعا یې کړې چې نظامي بریا نیږدې ده.

## پټ او ښکاره بې ځایه شوي خلك

کډوالۍ ته په زور اړیستنه داسې ناوړه ځیز دی چې له تاوتریخوالي او جګړو څخه منځ ته راځي. کلمبیا هم کډوالۍ ته په زور اړیستنې له ترخو تجربو څخه په امن کې نه ده پاتې شوې ، په دوه تېرو لسیزو کې په سلګونو زره کلمبیایي وګړي د تاوتریخوالي له امله خپلې شتمنۍ او کورونه پرېښودل او په زور سره له کلیو څخه ښارونو ته وشړل شول. د ورکړل شویو شمېرو له مخې د کلمبیا د ۴۴ ملیونه وګړو څخه ۳ ملیونه په کلمبیا کې دننه بې ځایه شول.

کډوالۍ ته په زور اړیستنه چې د بشري حقونو د ترپښو لاندې کولو له څرګندو مصادیقو څخه ده، ډېرې منفي پایلې لري چې د هغو له ډلې څخه کولای شو د ځمکو په مالکیت او له هغو څخه د ګټه اخیستلو د بدلون نوم واخلو. په دې توګه واړه فصلونه د بزګرۍ د محصولاتو د لوړې کچې په سوداګرۍ باندې اوړي او بزګر د بزګرانو د اتحایو ځای نیسي. د څېړنو له مخې له ۳ څخه تر ۷ ملیون هکتاره ځمکه د بې ځایه کېدو له امله په ناقانونه توګه ضبط او په کار وړل شوې ده. وسله والې شخړې داسې بهیرونه دي چې د اوږدې مودې لپاره اغیزې په خپل ځای پرېږدي ، داسې اغیزې چې نړوونکې پایلې لري. په همدې توګه په کلمبیا کې د بې ځایه کېدو او جباري کډوالۍ اغیزې د وسلوالې شخړې په همدې وخت کې، په لویو او اصلي ښارونو کې د ټولنې په منځنۍ او لوړ پوړ کې پټې پاتې دي.

## چریکان ، له سولې تښتېدونکي شریکان

چریکه ډله په ۱۹۸۹ کال کې عادي ژوندانه ته را وګرځېده. یانې کله چې حکومت په ۱۹۸۹ کال کې له M-12 چریکي ډلې سره د سولې تړون لاسلیك کړ او د دې تړون په پایله کې د ۱۹۹۱ کال نوی اساسي قانون ومنل شو او چریکه ډله په سیاسي ژوند کې را ګډه شوه. د کلمبیا حکومت د ۱۹۹۰ لسیزې په وروستیو کې د کلمبیا د وسله والو او انقلابي ځواکونو او د ملي آزادي غوښتونکو قوتونو سره د سولې خبرې اترې په لاره واچولې ، خو وروستۍ هوکړې ته ونه رسېدې. همدارنګه له څونو نورو کوچنیو یا له پښولویدلو چریکي ډلو سره د سولې څو نور هوکړه لیکونه له ماتې سره مخامخ شوي دي.

د کلمبیا وسله وال او انقلابي ځواکونه ا وهمدارنګه ملي آزادی غوښتونکې ډلې په تیښته او تر تعقیب لاندې دي، هغوی د هغې ځمکې چې مخکې یې په لاس کې درلوده کنټرول له لاسه ورکړی دی. د کلمبیا د وسله والو او انقلابي ځواکونو د رهبرۍ څلور غړي په ۲۰۰۸ کال کې ووژل شول. د نظامي عملیاتو په ترڅ کې ګڼ شمېر هغه لوی یرغمل نیول شوي چې ددوی په لاس کې و،

پاتې د پاڼې شاته

آزاد شول. خو بیاهم تراوسه دا ډلې په خوځښت کې دي او چریکې ډلې د سولې په پروسه کې له ګډون څخه ډډه کوي.

## ملي امنیت ته بیا پراختیا ورکول

آلوارو یورایب (Alvaro Uraibe) په ۲۰۰۲ کال کې د ولسمشر په توګه وګمارل شو. نوموړي د ؛ دموکراتیک امنیت؛ د تګلارې بنسټ کېښود او د ګړې لپاره یې سرچینې منظمې کړې. وروسته یې د متحده ایالتونو په ملاتړ د کلمبیا اردو سمبال کړه او ګټه اخیستنې ته یې وسپارله او نوموړي وکولای شول چې د هیواد د مهمو سیمو واکې په لاس کې واخلي. دا عملیات د دې سبب شول ترڅو د کلمبیا وسله وال او انقلابي ځواکونه په دفاعي حالت کې راشي. دا کړنې د دې لامل شوې چې د ولسمشر ټولیز محبوبیت له یوې مخې تغیر وکړي او د خلکو له ملاتړ څخه برخمن شي ، وروسته له هغې چې د کلمبیا کنګرې په اساسي قانون کې سمونونه راوستل ترڅو نوموړی وکولای شي د دوهم ځل لپاره د خلورو کلونو مودې لپاره ولسمشر شي. نوموړی په بریالیتوب سره د ۲۰۰۶ کال په ټاکنوکې ګډون وکړ.

یورایب د خپلو ټاکنیزو منډو ترړو په بهیر کې اعلان وکړ چې له شبه نظامي ډلو سره به هوکړې ته ورسیږي ترڅو سوله وکړي. وروسته د نوموړي تر رهبری لاندې اداري د سولې خبرې اترې ترلاس لاندې ونیوې او اعلان یې وکړ چې نوموړو ډلو منلې ده ترڅو خپلې وسلې حکومت ته وسپاري. له ۲۰۰۳ کال څخه تر ۲۰۰۶ کال پورې ۳۰۰۰۰ جنګړه مارانو جګړه پرېښوده او د سولې او وسلو سپارلو په بهیر کې ورګډ شول. د سولې په کاروان کې د جنګیالیو د ورګډېدو یو دلیل هغه ژمنې وې چې حکومت له دوی سره کړې وې ، یانې داچې جګړه ماران به له خلکو څخه عمومي بښنه غواړي او د منځنۍ او لوړې کچې د قوماندانانو کوم چې په لویو جرمونو تورن دي د بند موده به را کموي.

سره له دې چې ثابته شوه چې د جګړې د پای ته رسېدو بهیر نیمګړی دی او څو نورې نیمه نظامي ډلې یوځل بیا رامنځ ته شوي دي، خو سره له هغې هم د سولې او عدالت تر قانون لاندې د سزا اصلي بهیر رامنځ ته شوی دی او د شبه نظامیانو او هغو ډلو چې په دولتي چارواکو او سازمانونو پورې یې اړه درلوده د جرمونو شواهد او ثبوت را ټول شوي دي. خو په دې لړکې یواځې د ۱۵۰ شبه نظامیانو دوسیې په لاره اچول شوې دي خو له هغو دوسیو څخه چې په ۲۰۰۶ کال کې پیل شوې وې یوه یې هم پای ته نه ده رسېدلې.

د کلمبیا حکومت د ۲۰۰۸ کال په مې میاشت کې د حقیقت موندنې او عدالت د پلي کولو په بهیر کې یو ګام شاته لاړ څکه ۱۵ شبه نظامیان چې له هغې ډلې څخه ۷ کسان لوړ پوړي قوماندانان و د نیشه یې توکو د قاچاق په تور متحده ایالاتو ته وسپارل. وروسته د ۲۰۰۸ کال په اکتوبر کې د امریکې د فدرال محکمې قاضیانو د دوی له ډلې څخه دوه کسان له ۲۰ کلونو څخه په زیات بند باندې محکوم کړل. د حکم د ترلاسه کولو وروسته، له دې قوماندانو څخه یوه اعلام وکړ چې وروسته له دې به د کلمبیا له دولت سره د سولې په رامنځ ته کولو کې مرسته ونه کړي.

## د قانون واکمنی

د کلمبیا حکومت سره له دې چې له وسله والې شخړې سره لاس او ګریوان دی، خو په قانون ولاړ غوره عدلي او قضایي بنسټونه لري. په ۱۹۹۱ کال کې د دې هیواد اساسي قانون تصویب شو چې د قضایي سیستم خپلواکي یې خوندي کړه همدارنګه داسې توکي یې په ځان کې دلودل چې د اجرائیه قوې کتنه او انډول کول یې هم په ځان کې را نغښتل. له ۱۹۹۱ کال راپدې خوا د اساسي قانون محکمې، اساسي قانون ته نوره هم پراختیا ورکړه او د هغو پرېنسپ د بشري حقونو د تاوتریخوالي د قربانیانو د حقوقو پخلی وشو او فردي آزادۍ خوندي شوې.

جزایي قانون جوړوونکي په ټولیزه توګه نړیوال تعهدات هم په پام کې ساتي. سربېره پردې څو قوانین شتون لري چې په بشپړه توګه د قربانیانو د حقونو په اړه دي او د کورنیو بیځایه شویو له حقونو څخه محافظت کوي او د دې په لټه کې دي چې بیځایه کولو ته په زور اړیستنې په وړاندې مقابله وکړي. خو په دې هیواد کې په ډېری برخو کې د قانون او دهغه د پلي کولو ترمنځ ډېر واټن لیدل کیږي

د کلمبیا قضایي سیستم د لویدیځې نیمې کرې د هیوادونو د سیستم په پرتله پرمختللی دی. په دې سیستم کې د قضایي حل فصل محرورونه عبارت له د ټولنیزو پیچلو مسائلو د شخړو له پربکړې ـ د جنین له سقط څخه نیولې بیا د جنسي لړکیو تر حق او جنګي جنایتونو پورې ـ هغه چلند چې په تېرو کې د بشرضد جرمونو په اړه کیږي ، زیان جبران او د تاوان ورکړه ، څخه دي.

له بشري حقونو څخه د سرغړاوي ځینې قضیې چې د جرمونو قضایي سیستم ته وړاندې کیږي او یا د تاوان دورکړې په بهیر کې راځي، د عدالت له پلي کولو څخه ګټه پورته کوي. د کلمبیا قضایي او عدلي چارواکو په بریالیتوب سره وکولای شول ترڅو فاسد حکومتي چارواکي، جرمي کړی، د سرغړوونکو سرګروپان، نظامي چارواکي او د نارسمي وسله والو ډلو غړي محکمې ته راکاږي. د بېلګې په توګه سترې محکمې د پارلمان تر ۶۰ زیاتو غړو تعقیب تر لاس لاندې ونیو کوم چې د شبه نظامیانو له مشرانو سره په همکارۍ او په ځینو مواردو کې په قتل او سړې تښتونه باندې تورن و او له ولسمشر یورایب سره یې نیږدې اړیکې درلودې.

په پایله کې د دې کسانو یو شمېر بې ګناه او یو شمېر نورېې پړه و پیژندل شو. سره له دې دا بریالیتوب د هغه پراخ فساد په پرتله چې شتون لري، لږ دی، او د قانون په واکمنۍ باندې د نورو تیریو او پرله پسې له تاوتریخوالي ډکو بریدونو په اړه له مجازاتو څخه معافیت تر سترګو کیږي.

## مدني ټولنه

کلمبیا د پیاوړو په عین حال کې د پیچلو مدني بنسټونو در لودونکې ده. په دې بنسټونو کې دبشري حقونو سازمانونه، د سولې مدافع بنسټونه، ټولنیز مرستندویه بنسټونه، د ښځو د حقونو مدافعین او څیړنیز مرکزونه راځي. البته د لاتیني امریکې د ګڼ شمېر هیوادونو په څېر، مذهبي سازمانونه هم په سولې او بشري حقونو پورې اړوندو مسایلو کې مهم رول لوبوي.



**د انتقالي عدالت نړیوال مرکز (ICTJ):** د انتقالي عدالت نړیوال مرکز داسې یو ارګان دی چې د انتقالی عدالت د خوندیتوب لپاره کار کوي، دا ارګان له هغو هیوادونو سره چې غواړي د تل پاتې سولې او په تیرو کې پر بشري ضد جرمونو باندې دعدالت د پلي کولو په اړه فعالیت وکړي، مرسته کوي. د دې مرکز د فعالیت سیمه هغه ټولنې دي چې له ځپونکو حکومتونو او یا وسله والو شخړو څخه راوتلې وي او یا په هغو هیوادونو کې ولسواکي نوې را ټوکېدلې وي او تر اوسه لا له پخوا پاتو ستونزو لکه له عدالت څخه پراخ سرغړاوی او د بشري حقونو سیستماتیک تر پښولاندې کولو سره لاس او ګریوان وي د دې سازمان په اړه د نورو ډېرو مالوماتو لپاره په www.ictj.org پته باندې مراجعه وکړئ.

**د افغانستان د څار ټولنه:** د افغانستان د څار ټولنه یو افغاني مدني بنسټ دی چې لرلید یې یوې ولسواکې، سوله ایزې، متواضع او له عدالت څخه برخمنې ټولنې ته رسېدل دي چې ټول وګړي یې وکولای شي له مساوي فرصتونو څخه برخمن وي. د دې بنسټ ماموریت د هغو کړو وړو سرته رسول دي چې پایله یې په افغانستان کې د سولې ، عدالت او یو د بل د منلو د فرهنګ پیاوړتیا او بشري حقونو ته درناوی وي. ولسواکۍ، عدالت، بشري حقونو، په هیواد کې انډولیزې ټولنیزې او اقتصادي پرمختیا ، بې پربوالي، خپلواکۍ او تخصص ته ټینګه ژمنتیا د دې سازمان د کړو وړو د لاربنود په توګه له چورلیزو ارزښتونو څخه ګڼل کیږي. د افغانستان د څار ټولنې په اړه د نورو زیاتو معلوماتو لپاره لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ: www.watchafghanistan.org